عبدالخالق رشید

۲۰۲۳/۰۹/۰۷

الله گل دانه دانه ، دانه دانه
شوروي قارکده نميره خانه
الله گل دانه دانه

*

*

**

***

****

********

*************



# د مرسلي پرسر ستوري

## (ناول)

### نهمه برخه

### ۱۹۸۰ ـ ۱۹۸۶ کلونه

ليکوال

ع .رشيد


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

(۱۰)

ترقیـــــــــامتـــــه دخدای پـــــامـــان

یوه اوونۍ له عمومي عملياتو نه وه تيره شوې چې په افغانستان د روسانود لويې قوماندانۍ يوواکمن پلاوی، يوه ورځ سهاروختي له يوې نوې چورلکې دغونډ په ځنګ کې را کښته شو،ددغه څارونکي پلاوي دنده داوه څودا معلومه کړي چې افغانان ولې د روسانود وروستيو عملياتوپه پلان باندې خبرشوي دي.په دغه اړه لومړنۍ ګرويږنې هغه مهال پيل شوې چې د اوږدې لارې په اوږدو کې روسان داځل ولې د افغانانو له مقاومت سره مخامخ نه شول،خو په ټوليزه توګه دروسانودخواشينۍ خبره هم داوه لکه چې کرچکوف نادرجان ته ويلې وه:

-زه خوراسترې شوی يم،سره له دې چې په روسي پوځ کې زما مقام لږ کسان لري ، خوزه اوس دغې پايلې ته رسيدلی يم چې زموږ داتش په نامه لويان چې دا خلک وژني اويا دوی موږ وژني،موږ.اوس دغې پايلې ته رسيدلي يو چې دا يوه غميزه اويوه فاجعه ده،داسې غميزه چې زموږ دآراموااحساساتواوعواطفوملتيا له ځان سره نه لري،دا زموږد خلکود احساساتو اوعواطفوغوښتنه نه ده،موږنورپه دغې نا پاکه هيله چې موږ ته راترغاړه شوې ده نه نازيږواو نه پرې وياړو، په وينو او وژنو کله هم انسانيت نه سرلوړی شوی اونه يې وياړورباندې کړی دی.داڅه چې موږ يې بري بولو دا بری نه دی بلکی دا زموږ دماتو وژنو يو بل پيل دی...

نادرجان ته له پخوا څخه ښکاريده چې د کرچکوف ددغو خبره ترشاه يوڅه شته،دی پرهغه باندې شکي واو په دې پوهيده چې دکرچکوف ترکاسه لاندې نيم کاسه هم شته ، ان چې داهم ورته ښکاريده چې دده دا شان خبرې اواړيکي به يوه ورځ دده لپاره يوغم جوړکړي، يوه ورځ دهغه له خولې داخبره هم راوتلې وه چې دده خپلوان په چيچنيا کې هم شته اودهغو خلکود وياړونوبه يې يادونه کوله.نادرجان له ده څخه سره له دې چې دی په سره پوځ کې لوی چارواکی و،خو بيايي هم کله دخپل نظام اوخپلو وياړونو په اړه يوه د وياړاوخوښۍ خبره نه وه اوريدلې .هغه ته داهم په ډاګه وه چې روسان دخپلو پټوشبکوهلوځلو ته څومره ځيراوڅومره اهميت ورکوي اوڅه ډول کسان يې ان دخپل پوځ په دننه کې هم ددغه کار لپاره ګمارلي دي.کرچکوف نوريو رښتينی روسی سرتيری نه و،هغه اوس يوخواخوږی انسان و،هغه اوس په افغانستان دخپل روسي پوځ پرخلاف له يوه بل چينل سره چې دنادرجان لپاره هم ډيرنا آشنا نه و،اوبه ځغلولې وې ، ځکه يې يوځل نادرجانه ته دا خبره تر ژبه لاندې کړې وه چې يوه ورځ به داسې راشي،زما غږ به تر تا پرته بل چاته ونه رسيږي اونه به له بل چا که وهم مرم مرسته وغواړم...هغه په دې وروستيوکې داخبره هم کړې وه: ـ زه نه غواړم چې نورنو يو روسی انسان وژونکي واوسم ...زه فکرکوم چې زموږ روسان هم زما پردغه دريځ باندې اوس ښه پوهيږي...

په دغه ورځ چې روسی پوځي واکمن پلاوی غونډ ته راورسيد،کرچکوف نادرجان ته په بيړه داخبره رسولی وه چې دده په خاطر له افغان جنګياليواوخپلوملګروسره،هغوی چې ده ورسره اړيکي درلودل خبرې وکړي اوداهغه شيبه وه چې اوس پرده باندې راغلې وه ،ده لا داهم ورته ويلي وو چې دوی بايد له ماسره مرسته وکړي،څوزه يوشميرپټې رازونه په بشپړه توګه تردوی پورې ورسوم،پرهغو چې د دوی پوهيدل اړين دي،که څه هم نادرجان ته داخبره يوڅه له وخته ناوخته ښکاريده...خو دا د کرچکوف وروستۍ او لومړنۍ خبره نه وه ، هغه له افغان هيوادپالو خلقي جنګياليوسره له ډيرپخوا اړيکي درلودل اوهغه احساس چې له ده سره مل واو ده باورپرې درلود اوس ده ته يونوی غم جوړکړ... غونډ ته دپلاوي راتګ او د کرچکوف نظربندي پيل شوه او ده ته اجازه نه وه چې له ټاکلې کوټې بايد دباندې ووځي ، او ډيرې زرله ده څخه دپوښتنو دغه لاندې لړۍ پيل شوه:

ـ تا ولې له افغانانو سره ترټاکلې اندازه زياتې ليدنې کتنې او ناستې ولاړې کولې ؟

ځواب : د دندې له مخې ، دهغې دندې په خاطرچې دهغې لپاره چا کوم حد اوپوله نه ول ټاکلې...

ـ اسناد ښيي چې ته تل کوښښ کوې چې د شوروي مشرتاته دمعقولو؟ پريکړو په وړاندې خپله بې اساسه سرکښې وکړې،تا چې افغانانو(مجاهدينواوخلقيانو) ته کومه جاسوسي کړې او څه دې دوی ته رسولي هغه ټول په ډاګه شوي دي...

ـ ښه به وی که داخبره د اسناد له مخې وي ، ماته دندې دا اجازه راکړې وه چې بايد درواغ ووايم،زما دنده وه اوده چې د رښتيا وپلټم او دربنتيا لپاره مرسته هم وکړم اوهم يې وغواړم...

ـ دقيق اسناد موږ لروچې د وروستيو عملياتودناکامۍ ټوله پړه پرتا دراچوي...

ـ که اسناد مو دقيق وي ، زه محاکمې ته حاضريم...

له دغو اسنادوسره چې د څارنوال مخې ته پراته ول، د رينسکي شهادت هم ورسره مل و ، يوشميرداسې عکسونه يې هم ورسره مله کړي وو،هغه چې کرچکوف ترعملياتو دمخه په لوګرکې له افغانانو سره اخيستي وواود روسي يرغملو خبره يې هم پرده باندې وراچوله ، خو کرچکوف بياهم د رينسکي په اړه داخبره کوله:

ـ رينسکي چې تراوسه کوم کارونه ترسره کړي دي،پرهغو به کله هم روسان ونه وياړي ... ده چې څه ويلي هغه بی مانا دي اوله سرېټوبه لرې خبرې دي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالیږلو مخکې په ځير و لولـئ

په دغوټولو خبرواوپوښتنوکې یوه اساسي خبره داوه چې دکرچکوف نوم په هغه تورلیست کې هم و،په هغه کې چې ان له شوروي څخه دده دګرویږنوسپارښتنه په کې شوې وه،د شوروي مشرتابه په فکردا ډول کسان په انارشستانواو ګډوډۍ غوښتونکوکې راتلل چې دوی فکرکاوه جرړې یې په شوروي کې دي،ځکه دا سې کسان تراوسه په سلګونواو زرګونو له افغانستان څخه ایستلي شوي اوورل شوي ول. داچې هلته څه ورسره کیدل،پرهغو باندې یوازې خدای ښه پوهیده،ځکه چې شورویانو دخپل اویاکلن نظام دتاریخ په اوږدوکې دخپلو استوګنوله داسې کسانوپه تیره دهغوی په وړاندې چې پوځیان به وو، ډیربې رحمه چلند کاوه....
نن پنځم ماښام و چې نادرجان کرچکوف ته سترګې پرلاره و،هغه ورته دومره لاره برابره کړې وه چې باید ځان دخپلو پوځیانوله منګولو وباسي، کوم رازاونیا زچې د دوی دواړو ترمنځ و،هغه داوچې کرچکوف به ورته وایه چې: کله چې یوه مورګورم،خپله موررا یادیږي،کله چې دیوه ماشوم سترګو ته په ځیرځیرګورم خپل ماشومتوب را یادیږي،زه چې دلته په دغه وطن کې وینه وینم، دومره پرې ځوریږم چې فکرکوم زه خپله ټپي شوی یم . هغه نادرجان ته داخبره هم کړې وه:
-موږ باید ددغه ملت په وړاندې دومره ستره جفا نه وای کړې،داخلک اودا هیواد دمرستې وړو،موږ باید دجګړې پرځای له دوی سره مرسته کړې وای،موږ باید له دوی سره لاس اوګریوان شوي نه وای،کاشکې زموږ دالوټکو وزونه لکه داسطوریي دیوانوپه شان په هغه شیبه کې چې موږ پردغه هیواد یرغل کاوه سوزیدلی وای.
او نادرجان ته اوس دهغه وروستي برخلیک معلوم شوی واو پردې پوهیده چې کرچکوف نوردخپل انساني چال چلند قرباني شو، پردي پوه شوی وچې هغه نورپرهغه لارتلونکی دی ، هغه چې د سره ښامارخیټې ته د اور او وینوپه لمبوکې اوتوپانو کې ورغزیدلي ده . نادرجان ډیره خواري وکړه چې هغه باید د ښامار له منګولو را وباسي او ویې ژغوري. خوله بده مرغه چې هغه اوس دومره لاره نه لیده چې له خپل حاله نادرجان خبرکړي او ورته ووایي چې ده ټول عمرهڅه وکړه چې باید په افغانستان کې ځوک مړنه شي اوکه مړه کیږي هم باید چې له مرګه یې مخکې له مخکې بچ کړي، ده به ویل چې ټول روسان د جنګ اووژنو پلویان نه دي ،یوازې یو څوتنه وو چې دغه لوی ملک ته یې دغه غمیزه ور دغاړې کړه ...کرچکوف په نورو روسانوکې یوازې په دوو تنو باوردرلود،هغوی چې دده رازبه یې ساته، خوحالات دومره تنګ شوي وو چې دده په شاوخوا کې یوه روس ته هم د ساه ایستلو اجازه نه وه ، په ټول غونډ کې دا آوازه وه چې له کرچکوف څخه دری تورن جنرالان پوښتنې او ګرویږنې کوي،درتنه لوړ پوړي روسي جنرالان...
شپږمه شپه هم نادرجان کرچکوف اویا دهغه پیغام ته سترګې په لاره و، دهغه لپاره یې افغاني کالي ،څپلۍ لونګۍ اونوراړین توکي تیارله ځان سره ساتلي وو.خودریغه چې اوس دیوه څه کمی وچې هغه دی خپله و، دده اوس هیڅ پته نه لګیده،دځیرنواوګرویږنو پرمهال یوځل انیتا لیدلی و،ده تل له هغې سره د زړه خوله کوله،داچې انیتا روسۍ نه وه ځکه خویې د زړه خبره له هغې سره شریکه وه...
په دغه ورځ هم چې له دې سره مخامخ شوی و،یوازې یوه جمله یې ورته ویلې وه چې هغه باید نادرجان ته ورسوي اوهغه داچې :« کرچکوف نور دتل لپاره ستاسو سره خدای پاماني کوي«...
څو ورځې وروسته نادرجان په کومه پلمه د روسانو غونډ ته ورغلی و،هلته یې انیتا د سیاسي څانګې په دروازه کې په داسې حال کې چې سترګې یې د نادرجان په لیدو سره له اوښکو را ډکې شوې وې،لیدلی وه،هغې په ډیراحتیاط سره د کرچکوف پیام ورته رسولی و... « کرچکوف نور دتل لپاره ستاسو سره خدای پاماني کوي«...
انیتا هم اوس کرچکوف نه شو لیدای،خودومره یې نادرجان ته په ډیره بیړه کې ویلي وو چې ، نن سبا چې کله جوړه چورلکې دآسمان په لنډو اوږدو کې ګورې په هغوکې به کرچکوف دښکاري مرغه په شان ښکاریان له ځان سره لاس تړلی والوزوي،همدغه چورلکې به دده د لیږدولو ښنه وي...
نادرجان ته دهغې ربنتیاینې له مخې چې دده په ضمیرکې یې د دښمن په اړه ځای نیولی و ، مځکې ځای نه ورکاوه،داسې ورته سره شوې وه لکه تبۍ ځکه خویې ځای پرې نه و، هغه دشوروي حکومت ډیرښه پیژاند، ده هغوی هم ښه پیژندل چې ددغه حکومت څرخ یې په لاس کې و،هغه دکارګري دیکتاتورۍ په رمزاورازهم ښه پوهیده.دهغه خواشیني له دې امله وه چې کرچکوف ته څه نه ول چې نه رسیدل ؟ خو ده له دغو ټولو ویاړونواوامتیازونولاس په سرشوی و،هغه چې دخپل هیواد دکړنو په وړاندې کومه روژه نیولې وه،هغه یوه انساني خواخوږي وه،چې زموږ په وړاندې یې د یوه انسان په توګه ښوده او
دده داکارد شوروي پوځ په زړه کې یونا شونی کاراوچلن و،پرکومورازونو به چې هغه موږ خبرولو،هغه،هغه څه وو چې دده دانساني کرکتریوه برخه یې جوړوله،هغه دا ښوده چې دی هم انسان دي اوله انسان سره هغه هم له اړاومظلوم انسان سره مینه لري .له هغه سره توره وه خو دومره پڅه چې هغه د پښتنو خبره چې انسان خولا پریږده چې د پشۍ پزه یې هم نه شوای پرې کولای، ده خپل احسان،خپله عاطفه اومینه له موږ سره ښوده،هغه دخپلې مورمنلې وه چې کوم وخت یې نادرجا ن ته پټ ویلي وو چې، دی دمورله خوا افغان دی او دده وینه د سرکښو پښتنو تومنه لري،خو هغه ته داخبره هسې یوه مسخره ښکاره شوې وه اوډیربې پرې خندلي هم ول ... خو اصلي خبره داوه چې کرچکوف اصلي روسی نه و، ده له آره د ترکمنستان له یوې خورا درنې کورنۍ سره تړاودرلوداو داهغه کورنۍ وه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

چې د ترکمنستان د کمونست ګوند لومړنی بنسټ وال هم له دغې کورنۍ څخه و، دوی په رښتیاهم د اتل پښتون آزادخان له کوراوکاله سره نښتي ول،ده یومهال نادرجان ته داهم ویلي ووچې دده د مور تخلص اوس هم آزادوا دی او آزاد خان هغه ځوک و چې په احمدشاهی دوران کې دلته له کندهاره را استول شوي و،چې ان اوس هم په ترکمنستان کې په پخوانیوخلکوکې داخبره ژوندۍ ده چې وايي یووخت کوم چا د آسیا له لوی امپراتوره وپوښتیدل چې پرترکمنانانو ولې یرغل نه کوې ؟خو هغه په موسکانه څېره اوشاهانه اندازکې په ویاړسره ورته ویلي وو:«په دې چې هلته مچې لړې اوشات یې زیات دي ...» هو، آزاد خان په همدغه مهال په ترکمنانوکې د عزت خاوند او زما...
لمر لانه ولویدلی چې نادرجان اویوشمیرنورو افغان منصبداران د روسانو دبارکوپرخوا ور روان شول،یوشمیر روسان هلته پریوه جیپ موټربانډې سره راټول شوي وو،هغه چې په درنو ختوکې ننوتی و، نا درجان دوی هم د مرستې په پلمه د دوی پرخوا ورستانه اودجیپ په را ایستلو کې ورسره مله شول ، په دوی کې یولومړی بریدمن هم و چې هغه نادرجان پیژاند،ځکه خویې د نادرجان په لیدو سره له خولې راووتل:

- دملګري پرحال دې خبریې ؟
- نه ، دکوم ملګري ، څه پرې شوي ؟
- کرچکوف...
- نه ، پرهغه څه شوي ؟
- دری تورن جنرالان پوښتنې ترې کوي...
- په کومه ګناه ؟
- له تاسې سره د اړیکواوتاسو ته دجاسوسی په ګناه...
- کومه جاسوسي ؟
- نور زه هم نه پوهیږم ... له مرستې مو مننه مهرباني وکړئ او موږ خپل کار ته پریږدئ ، موږ ستاسې مرستې ته اړتیا نه لرو...

خو نادرجان بیاهم سترګې ورته سپینې کړې او په روسي یې پوښتنه ترې وکړه:
- اوس پرهغه پرهغه باندې څه کوي ، ولې یې د باندې نه راباسي،اوس خو به یې پوښتنې هم خلاصې شوې وي ؟
دموټرچلوونکی په داسې حال کې چې په ختولړلی و،د دوی په خبروکې راننوت او ویې ویل:
- ملګری د نورپه قیامت کې غواړه، دری جنرالان ورپسې راغلي ...ځه الله دې مل شه ، موږ خپل کار په خپله کوو ، مننه...
ددغو خبروپه اوریدو سره نورد نادرجان خاطرهم جمع شو،ما ښام تیاره شوی و چې ده اوملګرو یې ځانونه کنډک ته را ورسول ...او پرهغه شپه دوی دکرچکوف په اړه د سیمي هغو قوماندانانو ته دا خبره رسولې وه:
- سبا چې کومې چورلکې له غونډه الوزي په هغو کې به کرچکوف هم لاس تړلی موږ ته د جاسوسۍ په ګناه شوروي ته الوزوي...

پاتې لري...



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ